**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## مسلمانان هغه له کرکې ډک کارټونونه نه شي زغملی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پکې سپکاوی شوی دی

د لویدیځ یارکشایر په بټلي ښار او د ګرامر په یوه ښوونځي کې د یوه ښوونکي دنده هغه مهال وځنډېده، چې د دیني زده کړو په یوه ټولګي کې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له سپکاوي ډک کارټون نندارې ته وړاندې کړ. هغه زده کوونکي ولمسول چې خپلو والدینو ته شکایت وکړي، الحمد الله زده کوونکو دا کار وکړ، هغه ادعا درلوده چې د بریټانیا هېواد ارزښتونه اجازه ورکوي، څو په دې توګه سرغړونه وکړي. ځینې والدینو له ښوونځي څخه دباندې لاریون وکړ، وروسته ژمنه ورسره وشوه چې دا موضوع به وڅېړل شي.

د بریټانیا اصلي رسنۍ تل ناسم اور ته تېل وراچوي او په دې اړه یې د بریټانیایي مسلمانانو د سپکاوي لپاره د «هینري جکسن ټولنې» له کرکې ډک بیان خپور کړ، په داسې حال کې چې دوی هېڅکله نه شي کولای له خپل افراطي سیکولر دریځ څخه دفاع وکړي.

په غربي سیکولر ټولنو کې د عادي خلکو ژوند ورځ تر بلې ویجاړېږي. د سیکولر پانګواله ایډیالوژي په څرګنده توګه د ډېرو کړکیچونو لپاره د کاري حلالرې په برابرولو کې پاتې راغلې او د فساد لامل شوې ده. د وژنې، زور زیاتي، توکمیز ناوړه چلند، تعصب او له نفرت څخه کار اخیستل او نور جرمونه د سیکولر مذهب او د هغه تفرقه اچوونکو ارزښتونو نښې دي چې د حکومت او رسنیو پر مټ د کډوالو او بهرنیانو پر وړاندې د سپکاوي څخه ډک پیغام لېږدوي.

هغه باور چې ټول مسلمانان یې د اسلامي عقیدې پر اساس لري، چې له الله سبحانه و تعالی پرته هېڅ معبود نشته او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه رسول دی. سیکولران یې په غوصه کړي او له کرکې او سپکاوي ډک غبرګون ښیي. دوی په خپله سیکولر ایډیالوژۍ باور نه لري. د دې پر ځای چې خپلې ناکامۍ ومني او د غوره بدیل په لټه کې شي، دوی د خلکو د یو ځای کولو لپاره د دې وړتیا په اړه د غندلو ادعاوې کوي او پر وړاندې یې خنډونه جوړوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپکاوی د پانګوال نظام د ناکامۍ لپاره د ملامتولو یوه کاغذي هڅه ده، ځکه اوسمهال یوازې مسلمانان دي چې د وړاندیز لپاره د ژوند بدیله لاره لري. اسلام او مسلمانانو ته په زړه کې د کرکې اچولو پر ځای، ښه ده چې د اسلام هغه پیغام ته جدي پام وکړوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم

راوړی دی. یوازې اسلام د بشري ستونزو حل لري، له همدې امله هغه سیکولران چې زړونه یې له کرکې ډک دي په کلکه د دې مخالفت کوي.

اسلام د انسانیت لپاره وروستۍ هیله ده. یوازې اسلامي باور ذهن ته قناعت ورکوي او له انساني فطرت سره موافق دی. مسلمانان هر ځای، په ښوونځیو، رسنیو او ټولنو کې د سیکولرانو پر وړاندې د دربدلو مسوولیت لري. موږ باید په کلکه سیکولر داستان وننګوو چې موخه یې له ژوند څخه د دین ایستل دي او د هغه چا نوم پیکه کول دي چې پر الله سبحانه وتعالی ربښتینې عقیده لري.

موږ په حزب التحریر کې ډېری وخت د اسلام، مسلمانانو او زموږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر وړاندې سپکاوي ته غبرګون ښودلی دی. په دې وروستیو کې موږ وپوښتل «څوک شته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حرمت دفاع وکړي؟»

http://www.hizb.org.uk/media/press-releases/who-is-there-to-defend-the-honour-of-muhammad-saw/

**یحی نسبت**

**د حزب التحریر- بریټانیا مطبوعاتي دفتر استازی**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د شعبان ۱۲مه**

**۲۰۲۱م، د مارچ ۲۵مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴/ ۱۴۴۲**